# پر افغانستان د وچکالۍ د اغېزو ارزونه

**نامزد پوهنیار شریف الله پیروز**

د پېښو د مدیریت ډیپارټمنټ، د چاپېریالي علومو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان
ایمیل: sharifbuarki@gmail.com

**لنډیز**

افغانستان د وچکالۍ پر وړاندې زیانمنونکی هېواد دی. د څېړنې موخه دا ده چې پر هېواد د وچکالۍ اغېزې وڅېړل شي او کچه یې معلومه شي. د څېړنې لپاره له کتابتونې میتود څخه کار اخیستل شوی. پایله په ډاگه کوي چې نوموړی هېواد له متیورولوژیکي او هایدرولوژیکي وچکالیو څخه په لوړه کچه زیانمن دی او د اوبو زېرمونې وړتیا یې کمه ده، له ۲۰۰۰ کال راهسې تر اوسه ٦ ځلې سختې وچکالۍ ځپلی دی. هغه ستونزې چې هېواد ورسره د وچکالۍ له امله لاس او گرېوان دی؛ د دښتېدا گواښ، د سیلابونو زیاتوالی، د کرنیزو حاصل کمی، کاښتي (قحطي)، مهاجرتونه، د بزگرانو د گټې وټې کموالي او د څارویو له منځه تللو څخه عبارت دي. دې ستونزې ته د حل په موخه باید دولت د وچکالۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره مقاوم کرنیز تخمونه پیدا کړي، چې سکتوري پلانونه ترتیب او د ارزونې سیستمونه رامنځته کړي.

**کلیدي اصطلاحات:** افغانستان؛ وچکالي؛ د وچکالي اغېزې؛ دښتېدنه؛ وچکالي؛ لویدیځ زون

# Drought Impacts Assessment on Afghanistan

**Jr. Teaching Asst. Sharifullah Peroz**

Department of Disaster Management, Faculty of Environmental Sciences, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: sharifbuarki@gmail.com

## Abstract

Afghanistan is a vulnerable country towards drought. For this purpose, the research was conducted to analyses the negative impacts and level of this impacts on the country. The country’s situation was assessed by using a comprehensive review. The result show that Afghanistan is highly vulnerable to meteorological and hydrological droughts. And the water storage capacity of the country is very low. Since 2000 this country was suffered by devastating droughts six time. The problem that this country is facing due to sever drought are: threat of desertification, severity of floods, shortage of agriculture products, famine, poverty, migration, decrease in the income of farmers, lake of attention to invest in agriculture sector and animal extinction. To solve this problem, the government should find and store resistant agriculture varieties to cope against drought, setup multi sectorial plans for drought management and establish new assessment and early warning system for drought and famine.

**Key words:** Afghanistan; Drought; Drought Impacts; Desertification; Drought; Western Zone

## سریزه

افغانستان د طبیعي پیښو پر وړاندې زیانمن هېواد دی. چې د اقتصادي- ټولنیزې زیانمننې له امله د پیښو پر وړاندې زیات زیانمن دی(1). په تیرو دېرشو کلونو کې یې لړ تر لړه یوې طبیعي پېښې حتماً یو ولایت ځپلی دی. په ۲۰۱۸ کال کې د دې هېواد له ۴ ملیونو زیاتو وګړیو ژوند او د ژوند چارې د سیلابونو، طوفانونو، ځمکښویدنې او وچکالیو په وسیله ګواښل شوی دی(2). دا هېواد د نړیوالې تودوخې لوړېدو او اقلیم بدلون پر وړاندې زیات زیانمننونکی دی، ځکه چې وار له مخه یې مقابلوي وړتیا جګړو ځپلې ده(3). وچکالي یوه مهمه طبیعي پېښه ده هغه مهال زیاته محسوسیږي چې د اورښت کچه له منځني حالت څخه کمه شي(4). څېړنې ښیي چې د وچکالۍ کچه به په راتلونکې کې هم د اقلیم بدلون له امله لوړه شي ځکه اورښتونه به راکم شي(5). د نړۍ ۵۰ سلنه هېوادونه یې په افریقا، اسیا، استرالیا، شمالي امریکا او جنوبي امریکا کې تر ګواښ لاندې دي(6). له نورو پیښو سره د وچکالۍ توپیر دا دی چې ورو او په تدریجي ډول رامنځته کیږي او د زیات وخت لپاره یې اغېزې پر ځای پاتې کیږي. همدارنګه په کرنیز سکتور باندې یې اغېزې تر بلې هرې پېښې زیاتې دي (7). وچکالي او سیلابونه د اوبو اړوند طبیعي پېښې دي چې چاپیریال، کرنه، نباتات، څاروي، انسانان او سیمه ایز اقتصاد تر اغېز لاندې راولي. افغانستان یو د هغو هېوادونو له ډلې څخه دی چې د وچکالۍ پر وړاندې زیات زیانمن دی. څېړنې ښیي چې اقلیمي بدلون ته په کتو به په راتلونکې کې هم په دې هېواد کې د سیلابونو او وچکالۍ څخه په رامنځته کیدونکو زیانونو کې پام وړ زیاتوالی راشي. د اقلیمي بدلون له امله په هېواد کې دوره یي وچکالۍ زیاتې شوې او په طبیعي زېرمو یې مخامخ اغېزه کړې ده. اقلیمي بدلون په افغانستان کې سیلابونه زیات کړي، د غرنیو سیمو نباتي پوښښ یې له منځه وړی او د وچکالیو او ناوړه موسمي بدلونونو له امله یې د هېواد تل پاتې پرمختګ له ګواښ سره مخ کړی دی(8). پر نورو زیانونو سربېره د اوبو پر زېرمو هم منفي اغېزې کوي او د برېښنا تولید باندې هم ناوړه اغېزې کولای شي. د څېړنو په پایله کې په ډاګه کېږي چې که یوه لویه وچکالي په هېواد کې رامنځته شي د ۳ ملیارده ډالرو په کچه به د کرنیزو پیداوارو د له منځه تللو لامل شي او دا به ټول هېواد د خوراکي توکو له څرګند کمښت سره مخامخ کړي(5). د هېواد لویدیځ زون د نورو زونونو پرتله د وچکالۍ پر وړاندې زیات زیانمن دی(9). دې پېښې په ۲۰۱۸کال کې د غور، بادغیس او هرات ولایتونو پر خلکو ناوړه اغېزې وکړې او د یادو ولایتونو وګړي یې اړ کړل، چې خپل استوګنځي پرېږدي. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۹زیږدیز کال کې اورښتونو د وچکالۍ کچه راټیټه کړه، خو بې ځایه شوي وګړي د خوړو د خاوندیتوب، پورونو او سیلابونو له امله خپل سیمو ته ستانه نشول (10).

**شالید**

وچکالي او سیلابونه د اوبو اړوند طبیعي پېښې دي، چې په پراخه کچه چاپیریالي فکتورونه، کرنیز فعالیتونه، نباتات، وحشي څاروي ، انسانان او سیمه ایز اقتصاد تر اغېز لاندې راولي. چې د انساني کړنو په وسیله یې شدت موندلی او په یوه سیمه کې د تولیداتو کمښت، د ژوند اړتیاوې او اقتصادي فعالیتونه د میاشتو او کلونو لپاره له خنډ سره مخ کوي. له ۱۹۶۷څخه تر ۱۹۹۱زیږدیزکال پورې د پېښو له امله ۲.۸ ملیارده کسان زیانمن شوي، چې ۵۰ سلنه یې له وچکالۍ سره تړاو لري. په داسې حال کې چې د ۳.۵ ملیونه کسانو له ډلې چې د پیښو له امله یې خپل ژوند په نړیواله کچه له لاسه ورکړی وو ۳۵ سلنه یې د وچکالۍ له امله وو. په وروستیو کلونو کې د نړۍ په ټولو لویو وچو کې په زیاته پیمانه شدیده وچکالي لیدل شوې ده کوم چې د ډېرو اقتصادي زیانونو، ایکولوژیکي زېرمو له منځه تلو او خوراکي توکو د کمښت سبب شوې ده چې ملیونونه وګړي یې له لوږې سره مخ کړي دي(11). وچکالي د نورو پېښو په پر تله لږ پېښیږي خو کله چې پېښه شي، د موسمونو یا کلونو لپاره یوه پراخه سیمه تراغېز لاندې راولي. څېړنو ښودلې چې له ۱۹۷۰نه تر ۲۰۰۹زېږدیز کال پورې د څلورو لسیزو په موده کې وچکالي د نړۍ په کچه رامنځته شویو پیښو څخه یې ۴.۲ څلور اعشاریه دوه سلنه د وچکالۍ اړوند وې چې د ۱۰۱۸۶ طبیعي پیښو له ډلې ۴۲۸ پېښې د وچکالۍ وې. په نړیواله کچه افریقا د زیات شمیر وچکالیو سره لاس او ګریوان وه او د زیاتو افریقایانو ژوند یې هم اخیستی. په داسې حال کې چې د اسیا لویه وچه یې په اقتصادي لحاظ زیاته ځپلې او له وچکالۍ ډېر زیات اغېزمن وګړي هم د دې لویې وچې اوسیدونکي وو. له ۱۹۵۰زیږدیز کال راپدېخوا وچکالي او ګرمې څپې د افریقا، امریکا، اسیا، استرالیا اواروپا په ډېرو سیمو کې په پرلپسې ډول مخ په زیاتیدو دي(12). د افریقا لوې وچې د ټولو پیښو له ډلې ۱۸ سلنه، اقیانوسیه۴.۵سلنه ،امریکا ۴ سلنه ، اسیا او اروپا ۳.۵ سلنه د وچکالۍ پېښې پورې تړاو لري(13). وچکالي په سویلی اسیا کې یوه مهمه اقلیمي پېښه ده چې په تیرو ٦۸ کلونو کې یې ۱.۴۴ ملیارد کسان زیانمن کړي دي. په دې لویه وچه کې د ډېرو سیمو کرنه په بارانونو پورې تړلې او همدا یې د وچکالۍ پر وړاندې د زیانمنیدو لوی لامل دی. وچکالي د خوړو په خوندیتوب، اوبو زېرمو، روغتیا، ایکوسیستم، انرژۍ په تولید او اقتصاد باندې ناوړه اغېزې پرې باسي(12). سویلي اسیا د نړۍ په کچه یو له ډېر نفوس لرونکي سیمو څخه ده چې په تقریبي ډول د نړۍ ۲۵.۸۷ سلنه نفوس په دې سیمه کې ژوند کوي. د سویلي اسیا د هېوادونو له ډلې افغانستان، هند، پاکستان او سریلانکا په تیرو پنځو لسیزو کې په هرو دریو کلونو کې یو ځل وچکالي تجربه کړې ده او همدارنګه نیپال او بنګله دیش هم د پرلپسې وچکالیو څخه زیانمن شویدي. په ۲۰۱۱زیږدیز کال کې د افغانستان په ۱۴ ولایتونو کې ۲.٦

مليونه وګړي د يوې شديدې وچکالۍ له امله اغېزمن شوي وو. په داسې حال کې چې د هندوستان هېواد جغرافيه په ۱۹۸۷، ۲۰۰۲، ۲۰۰۳ او ۲۰۱۰زيږديزو کلونو کې ۴۰ سلنه وچکالۍ ځپلې وه. په بنګله ديش هېواد کې هم له ۱۹۷۳ څخه تر ۲۰۰۹زېږديز کال پورې د وچکالۍ ۱۱ پېښې په بيلابيلو کلونو کې رامنځته شوې. په ټوليز ډول له ۱۹۵۰ څخه تر ۲۰۱۸زيږديز کال پورې په ټوله سويلي اسيا کې ۴۲ د وچکالۍ پېښې رامنځ ته شوې چې د ۱.۴۴ مليارد کسانو د زيانمنيدو او د ۵.۸۸ مليارد ډالرو په ارزښت مالي زيانونه يې اړولي وو. څېړنو دا هم وښوده چې سويلي اسيا به په راتلونکې کې هم د وچکالۍ په وسيله وځپل شي(12). وچکالي د نړۍ په کچه له ډيرو ګواښونکو پيښو څخه شميرل کېږي چې تکرار او شدت يې په تيرو ۲۰ کلونو کې د اقليمي بدلون په پايله کې زيات شوی او نور هم مخ په زياتيدو دی. په ځانګړي ډول يې د خوړو په خونديتوب او توليد باندې خورا منفي اغېزې کړې دي(14). څېړنې په ډاګه کوي چې د پېښو شمير او شدت مخ په زياتيدو دي. په نړيواله کچه له ۲۰۰۱څخه تر ۲۰۲۰زيږديز کال پورې ۳۴۷ پېښې رامنځته شوې وې دا په داسې حال کې ده چې يواځې په ۲۰۲۱م کال کې ۴۳۲ پېښې ثبت شوې دي.که د طبيعي پېښو له ډلې يواځې وچکالي ته پام وکړو له ۲۰۰۱څخه تر ۲۰۲۰زېږديز کال پورې په منځني ډول ۱۶ پېښې رامنځته شوې دي په داسې حال کې چې يواځې په ۲۰۲۱زيږديز کال کې د وچکالۍ پيښو شمير۱۵ته رسيږي چې ښکاره د وچکاليو په ډيريدو باندې دلالت کوي. که چيرې د پيښو په وسيله وژل شوو کسانو شمير ته پام وکړو په ډاګه کېږي چې په وروستيو کلونو کې دا شمير مخ په لوړيدو دی. له ۲۰۰۱څخه تر ۲۰۲۰زيږديز کال پورې د پيښو له امله د وژل شوو کسانو شمير په نړيواله کچه ۶۱۲۱۲ تنه وو پداسې حال کې چې يواځې په ۲۰۲۱زيږديز کال کې د پيښو له امله د مړو شويو کسانو شمير ۱۰۴۹۲ تنه ښودل شوی چې ښکاره زياتوالی په ګوته کوي. خو دې ته مو بايد پام وي چې د لومړيو شلو کلونو په موده کې د وچکالۍ له امله ۱۰۵۹ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی ولې په ۲۰۲۱م کال کې د وچکالي له امله څوک ندي مړه شوي. په همدې ترتيب که چيرې له وچکالۍ څخه زيانمنو کسانو شمير ته پام وکړو په ډاګه کوي چې له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۰م کال پورې له وچکالۍ څخه ۶۷.۵مليونه کسان زيانمن شوي په داسې حال کې چې يواځې په ۲۰۲۱زيږديز کال کې ۵۲.۷ مليونه تنه له وچکالۍ په نړيواله کچه زيانمن شوي چې شديد ډيروالی ښيي. افغانستان هم له وچکالۍ په امن نه وو او يواځې په ۲۰۲۱زېږديز کال کې يې۱۱ مليونه افغانان زيانمن کړل. زيانمن شوي هغه څوک وو چې بې کوره، ټپيان او يا هم په بيلابيلو ډولونو ورته زيان رسېدلی وو. که د وچکالۍ اقتصادي زيانونو ته پام وکړو له ۲۰۰۱څخه تر ۲۰۲۰زېږديز کال پورې په نړيواله کچه ۶.۷ملیارده ډالر زيان اړولی په داسې حال کې چې يواځې په ۲۰۲۱زېږديز کال کې يې

اقتصادي زیانونه ۱۲.۱ ملیارد ډالرو ته رسیږي (15). طبیعي پېښې په ټوله نړۍ کې رامنځته کېږي. ۲۰۱۵زیږدیز کال د پیښو ګواښونو کمولو لپاره یو ډېر حیاتي کال وو. له دې کال وروسته پراختیایې اجنډا درې نړیوال چارچوبونه(چوکاټونه) د روښانه موخو سره لاسلیک شول تر څو د نړیوالو لپاره د طبیعي او انساني پیښو ګواښونه را کم کړي(14). افغانستان هم د طبیعي پیښو پر وړاندې زیانمن او په وچه کې پروت هېواد دی. مساحت یې ۶۵۲۸۶۴کیلومتر مربع دی چې په جنوبی اسیا کې موقیعت لري. دا هېواد له پاکستان، ایران، ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان او چین سره ګډه پوله لري او له دریمې برخې زیاته توپوګرافی یې د هندوکش غرونو لړۍ په وسیله پوښل شویده. یوازې ۱۲سلنه ځمکه یې د کرنې وړ ده او له ۴۹ سلنې زیاته برخه یې د بحر له سطحې څخه تر ۲۰۰۰متړو زیات لوړوالی لري چې د کال په اوږدو کې لږ اورښت تر لاسه کوي. همدارنګه د وچ اقلیم له وجې د لوړې تودوخې، زیات او ګړندي اورښت، سختو سیلابونو او ځمکښوویدنې پر وړاندې چې په تنګو غرنیو درو کې رامنځته کېږي مخامخ دی او په پخوانیو وختونو کې د مرګ ژوبلې او ډېرو زیانونو سبب هم شویدي. دا هېواد د ځمکښوویدنې، زلزلې، وچکالی، سیلابونو او اقلیمي بدلونونو د اغېزو پر وړاندې زیانمن دی. په حقیقت کې د مقابلوي میکانیزمونو کمښت، د وړتیاوو نشتوالی او کمزورې حکومتوالي د لوړې زیانمننې لوی لامل دی(16). افغانستان د وچ اقلیم له امله د بیلابیلو پیښو او افتونو پر وړاندې زیانمن دی او د کم عاید لرونکوهېوادونو په ډله کې دویم ځای لري او یواځې له هایتي هېواد څخه مخکې دی. له ۱۹۸۰زیږدیز کال څخه تر ۲۰۱۵زیږدیز کال پورې یې د هر یو ملیون اوسیدونکو له ډلې ۱۱۵۰ تنو د طبیعي پیښو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. چې ۵۰ سلنه مرګ ژوبله یې په ترتیب سره په جیوفزیکي او هایدرومتیورولوژیکي پیښو پورې اړوند وه (17).

**څېړنموخې**

له دې څېړنې څخه موخه داده چې په هېواد باندې د وچکالۍ ناوړه اغېزې او کچه یې معلومه شي. او همدارنګه هغه کړنې او نوښتونه به په ګوته شي چې د وچکالۍ د ناوړه اغېزو په کمښت کې کارول کېږي.

**څېړندود**

د دې څېړنې په ترسره کولو کې له کتابتوني میتود څخه کار اخیستل شوی، معلومات له بیلابیلو کتابونو، مقالو، راپورونو، ژورنالونو او ویبسایټونو څخه راغونډ شوي او بیا تحلیل او تفسیر شوي دي.

### د څېړنې ساحه

دا څېړنه په ټوله کې په افغانستان باندې د وچکالۍ اغېزې څېړي. افغانستان د نړۍ په کچه یو له غریبو هېوادونو څخه شمیرل کېږي. د وچ او نیمه وچ اقلیم درلودونکی دی چې سوړ ژمی او تود اوړی لري (7).




لمړی انځور: په افغانستان کې لوړې ژورې او له ګاونډیو هېوادونو سره پولې ښیي (7)

### د څېړنې پوښتنې

الف. په افغانستان باندې د وچکالۍ ناوړه اغېزې څه دي؟

ب. په افغانستان باندې د وچکالۍ ناوړه اغېزې په کومه کچه دي؟

### د څېړنې موندنې او مناقشه

وچکالي د اقلیم یوه طبیعي برخه ده او له وچوالي سره توپیر لري وچه سیمه هغې ته ویل کېږي چې د کال په اوږدو کې په کمه اندازه اورښت تر لاسه کوي. وچکالي په ټوله کې د اوږد مهال، لکه د یوه موسم یا له موسم څخه د زیاتې مودې لپاره په یوه سیمه کې له معمول څخه د اورښتونو کموالي ته ویل کېږي کوم چې د یو شمیر ګروپې، چاپیریالي یا نورو کړنو لپاره د اوبو کمښت رامنځته کوي. وچکالي څلور مهم ډولونه لري چې د متیورولوژیکي، هایدرولوژیکي، کرنیزې او اقتصادي-ټولنیزې وچکالي څخه عبارت دي. متیورولوژیکي وچکالي هغه مهال رامنځته کېږي چې د اورښت اندازه په یوه سیمه کې د یوه ځانګړي وخت یا موسم لپاره کمه شي په دې ډول وچکالي کې د خلکو غوښتنې او اړتیاوې هم په نظر کې نیول کېږي داسې انګیرل کېږي چې که یوه سیمه د شپږو میاشتو په اوږدو کې تر پنځوس سلنې زیات اورښت هم تر لاسه کړي ولې د خلکو غوښتنې او اړتیاوې پوره نه کړي د متیورولوژیکي

وچکاليو پر وړاندې اسيب پذيره بلل کېږي. هايدرولوژيکي وچکالي بيا هغه مهال رامنځته کېږي چې د سطحي اوبو اندازه په سيندونو، جهيلونو، کانالونو، ويالو کې راټيټه شي. دا ډول وچکالي د ژمي په موسم کې له اورښت سره تر ډيره تړاو لري که چيرې د ژمي پر مهال واورې په غرنيو سيمو کې زېرمه نشي نو په پايله کې يې د اوړي پر مهال په سيندونو، کانالونو، جهيلونو او ويالو کې د سطحي اوبو کچه راټيټيږي چې دا ډول وچکالي رامنځته کوي. کرنيزه وچکالي بيا هغه مهال رامنځته کېږي چې کله خاوره په کافي اندازه رطوبت په يوه ځانګړې سيمه او وخت کې تر لاسه نکړي تر څو د نبات ژوند او وده تضمين کړي. په يوه سيمه کې د اورښت اندازه له نفوذ سره مستقيمه اړيکه نلري. ځکه د اوبو نفوذ په يوه سيمه کې خاورې رطوبت، جوړښت، د سيمې ميلان او د اورښت په شدت او اندازې پورې تړلی دي. د خاورې جوړښت هم مهم دی په هره اندازه چې خاوره د اوبو جذبولو زياته وړتيا ولري په همغه اندازه د وچکالۍ پر وړاندې کمه اسيب پذيره بلل کېږي(13). افغانستان له متيورولوژيکواو هايدرولوژيکي وچکاليو څخه زيات زيانمن دی، څېړنې په ډاګه کړې چې وچکالۍ په ۲۰۱۱زيږديز کال کې د هېواد مليونونه وګړي د لوږې او غريبۍ سره مخامخ کړي وو. په ځانګړي ډول يې د هېواد په غربي ولايت هرات باندې بدې اغېزې وکړې او د دې ولايت اوسيدونکو د ژوندانه ټولنيز، اقتصادي او چاپيريالي اړخونه يې ځپلي وو. هغه کسان چې کوم کسب يې نه درلود بيکاره، د ژوند معيار يې راټيټ او مالي حالت يې مخ په ښکته روان شو. په نوموړي ولايت کې د وچکالۍ ټولنيزې ستونزې د اوبو زېرمو پر سر شخړې، د مهاجرتونو زياتوالی،رواني حالت، روغتيا او زده کړيزو موخو باندې منفي اغېزو څخه يادونه کولای شو(17). کومه وچکالي چې له ۱۹۹۹-۲۰۰۱زېږديز کلونو کې رامنځته شوه د کندهار او هلمند په ولايتونو کې يې د اورښت اندازه ۵۰ سلنه راکمه کړه. هغه څېړنه چې په ۲۰۰۴زېږديز کال کې په نوموړو ولايتونو کې ترسره شويده ښيي چې د څېړنيزې سيمې زياتره خلک په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. او ۵۰ سلنه باغونه او د غنمو محصولات يې وچکالۍ ځپلي دي. په داسې حال کې چې د يادې وچکالۍ له امله په اوسط ډول د هرې کورنۍ ۴۵ وزې/ميږې په کندهار ولايت کې له منځه تللې وې. ۳۱ ميږې او وزې چې ژوندۍ پاتې وې د ناروغيو او کم وزن له امله له اصلي بيې څخه دوه چنده ارزانه وپلورل شوې. بله ستونزه چې نوموړي ولايتونه ورسره مخ وو د عايد کموالی وو. د کندهار ولايت ۳۶سلنه وګړي د ځانونو او څارويو لپاره د څښلو اوبو د پيداکولو په موخه له خپلو سيمو نورو نږدې سيمو ته مهاجر شول. د مهاجرت لوی لامل هم د څښاك اوبو نشتوالي وو. ډيری ښځو او ماشومانو به په ورځني ډول ۳.۵ کيلومتره پلی تګ کاوه تر څو له لاسي پمپونو او ژورو څاګانو څخه د څښاك په موخه اوبه راوړي. له ۱۹۹۹– ۲۰۰۱م پورې چې کومه وچکالي رامنځته شوه په تيرو پنځوسو کلونو کې يې ساری نه وو. دې وچکالي له يو

ځو ګوتو په شمار سیمو څخه پرته چې دایمي سیندونو ته څیرمه پرتې وي نږدې ټول هېواد تر مستقیم یا غیرمستقیم اغېز لاندې راووست. او د هېواد سم نیمایی نفوس یې وځاپه (18). ځېړنو وښوده چې وچکالي د نورو مشکلاتو سربېره د بزګرانو د عاید کموالي، په کرنیز سکتور باندې سرمایه ګذارۍ ته زړه نه ښه کول، د لومړنیو خوراکي توکو بیې لوړوالي، د غذایی ستندرډونو زوال، قحطي، ناروغیو، مړینې، مهاجرتونو او د اهلي حیواناتو د له منځه تلو سبب شوې وه. هغه لاملونه چې د وچکالۍ پر وړاندې یې د افغانستان په زیانمنیدو کې مهم رول لوبولی وو له په وچه سیمه کې د زیاتو خلکو اوسیدل چیرې چې د وچکالۍ په وسیله نور هم ځپل کېږي، په لرې پرتو سیمو کې کرنه تر ځو ورځنۍ اړتیاوې ترې پوره کړي، د تخنیکي کرنېزو کړنو سره نه بلدتیا تر ځو ډاډمن محصول ترې تر لاسه شي، د اصلاح شویو تخمونو د ذخیرو نشتوالی، د داسې ځمکو شتون چې اوبه د زیات وخت لپاره نه ذخیره کوي او رطوبت زر له لاسه ورکوي، هغه ځمکې چې د خړوبولو په موخه د نورو سیمو په اقلیمی سیستمونو پورې تړلې وي او د وچکالي پر وړاندې د مبارزې لپاره د زېرمو او امکاناتو د نه ځانګړي کولو څخه عبارت وو(19). که چیرې د اقلیمي بدلون سره په سم ډول توافق ونه شي په نړیواله کچه به د لوږې او ماشومانو د خوارځواکۍ په پېښو کې د ۲۰۵۰مې لسیزې تر نیمایي پورې ۲۰ سلنه زیاتوالی راشي. په افغانستان کې ماشومان په غریبو یا په هغو کورنیو کې چې متنوع غذایی رژیم ته لاسرسی نلري وار له مخه د رشد له ستونزې سره مخ دي او په ښه ډول یې بدن وده نه شي کولای. په کلیوالو سیمو کې کومې چې د وچکالۍ او تودوخې په زیاتیدو سره نورې هم ځپل کېږي د ماشومانو د بدن ودې کچه نوره هم ټیټه ده(3).




دویم انځور : د افغانستان په ولایتونو باندې د وچکالۍ د اغېزو کچه(20)

کوم راپورونه چې په ۲۰۱۴زیږدیز کال کې ورکړل شوي دي ښيي چې د افغانستان ټول ولایتونه د وچکالۍ پر وړاندې زیانمن دي. په پورتني شکل کې ښکاري چې کابل او نورستان کم او نور ټول

ولایتونه په منځنۍ یا زیاته اندازه له وچکالۍ څخه زیانمن وو. څېړنې ښيي چې وچکالي به افغانستان تر ۲۰۳۰زېږدیز کال پورې د ځمکو ویجاړېدو او دښتي کېدو خواته بوزي. ۸۰ سلنه افغانان د کرنیزو فعالیتونو او اهلي څارویو ته د خوراکي توکو د تولید په موخه په اورښتونو باندې متکي دي تر څو ترې عاید تر لاسه کړي او خپلې ورځنۍ چارې ورباندې پر مخ بوزي. چې دا دواړه موخې د تودوخې زیاتوالي او نامنظمو اورښتونو له امله له ګواښ سره مخ دي. دا هم معلومه شوه چې ۳٦سلنه افغانان پېښو ځپلي دي. که چیرې د ژمي او پسرلي په موسمونو کې د تودوخې درجه لوړېږي نو د واورې زر ویلې کېدو سبب کېږي چې شدید سیلابونه رامنځته کوي، دا سیلابونه هغه مهال نور هم ویجاړونکي کېږي چې سیمه وچکالۍ ځپلې وي ځکه وچکالي د خاورې پوښ سختوي او اوبه په ښه ډول نه شي جذبولی (21). دا هېواد د اوبو ذخیره کولو کمه وړتیا لري ځکه چې پرلپسې وچکالیو او د اقلیم بدلون له امله د واورو زر ویلې کېدو د دې هېواد د اوبو زېرمو مدیریتي کړنې له ستونزو سره مخامخ کړېدي. او د اوبو زېرمې تر اوسه په ښه ډول ندي مدیریت شوې. همدارنګه د تودوخې زیاتوالي او د اورښتونو کموالی په ځانګړي ډول د هېواد په سویل، لویدیځ او سویل لویدیځو سیمو کې د اقلیم د چټک بدلون ښکاره نښې دي. د وچکالي د شدت او شمیر د زیاتوالی له امله د هېواد په سیندونو کې هم د اوبو جریانونه کم شویدي(22). د کابل سیندیزه حوزه کومه چې د هېواد۳۵سلنه نفوس ترې د بیلابیلو موخو لپاره ګټه اخلي هم د وچکالۍ له امله زیانمنه شویده. دې حوزې هم له ۲۰۰۰زېږدیز کال څخه تر ۲۰۰۴زېږدیز کال پورې دوامداره وچکالي تجربه کړې ده چې د ۲۰۰۱زېږدیزکال وچکالي یې په سیمه ایزه کچه د یادولو وړ ده(23).

له ۲۰۰۰م کال څخه تر ۲۰۲۴م کال پورې په افغانستان باندې د وچکالۍ اغیزې

| | Total Deaths | No. Affected |
|---|---|---|
| 2021 Drought Food shortage | 0 | 11000000 |
| 2018 Drought Food shortage | 0 | 13500000 |
| 2011 Drought Food shortage | 0 | 1750000 |
| 2008 Drought Food shortage | 0 | 280000 |
| 2006 Drought not reported | 0 | 1900000 |
| 2000 Drought Famine\|Water shortage | 37 | 2580000 |

لمړی ګراف: له ۲۰۰۰کال راپدیخوا تر ۲۰۲۴زېږدیز کال تر فبرورۍ میاشتې پورې په افغانستان باندې وچکالۍ اغېزې ښیي(24)

په پورتني ګراف کې په افغانستان باندې د وچکالۍ اغېزې ښکاري کوم چې له ۲۰۰۰زېږدیز کال راپدیخوا د ۲۰۲۴زېږدیز کال تر فبروري میاشتې پورې ارقام په ګوته کوي. له ۲۰۰۰زېږدیزکال راپدیخوا افغانستان ٦ ځلې وچکالۍ ځپلی چې مشهورې پېښې یې په ۲۰۰۰، ۲۰۰٦، ۲۰۰۸، ۲۰۱۱، ۲۰۱۸ او ۲۰۲۱ زېږدیز کلونو کې رامنځته شوې دي. کومه وچکالي چې په ۲۰۰۰زېږدیز کال کې رامنځته شوه د اوبو کموالي او قحطي له امله یې د ۳۷ تنو انسانانو ژوند واخیست او ۲۵۸۰۰۰۰ تنه نور ترې اغېزمن شول چې د هېواد په جنوب لویدیځ کې یې کندهار، هلمند، نیمروز، زابل او ارزګان ولایتونه په لویدیځ کې یې هرات، فراه، بادغیس ولایتونه په سویل کې یې پکتیکا، خوست، غزني ولایتونه او په شمال ختیځ کې یې بغلان، کندز، تخار او بدخشان ولایتونه وځپل او اوسیدونکي یې ترې اغېزمن شول په ټوله کې دې وچکالي د هېواد۱۵ولایتونو ته زیان واړوه. بله وچکالي په کال ۲۰۰٦ زېږدیز کې رامنځته شوه چې ۱۹۰۰۰۰۰کسانو ژوند یې اغېزمن کړاو د هېواد۱۴ مهمو ولایتونو ته یې زیان واړوه چې له بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ، بامیان، دایکندي،فاریاب، غور، جوزجان،کندز، سمنګان، سرپل، تخار او ارزګان څخه عبارت وو. همدارنګه کومه وچکالي چې په کال ۲۰۰۸زېږدیز کې پېښه شوه د خوراکي موادو د کمښت سبب شوه او د ۲۸۰۰۰۰کسانو ژوند یې د هېواد په څلورو ولایتونو کې چې له کندز، بلخ، فاریاب، بادغیس ولایتونو څخه عبارت وو اغېزمن کړ. بله د وچکالي پېښه په کال ۲۰۱۱زېږدیز کې رامنځته شوه چې د خوراکي مواد د کمښت لامل شوه. او د هېواد د ۳۴ولایتونو له ډلې یې ۱۴ ولایتونه چې د بلخ، سمنګان، تخار، سرپل، هرات، بادغیس، فاریاب، جوزجان، بغلان، کندز، بدخشان، بامیان، دایکندی او غور ولایتونو څخه عبارت وو تر اغېز لاندې راوستل. دوې نورې مهمې پېښې د وچکالي چې په کال ۲۰۱۸ او ۲۰۲۱زېږدیز کلونو کې رامنځته شوې چې لومړی یې د بادغیس، دایکندی، هرات، غور، بدخشان، فراه، هلمند، کندهار، زابل او ننګرهار ولایتونه زیانمن کړل. او له وروستي وچکالي هم د هېواد۱۱ ولایتونه زیانمن شول چې د بادغیس، بدخشان ، بغلان، بلخ،تخار، جوزجان، سرپل، سمنګان، فاریاب، کندز او هرات څخه یادونه کولای شو. د یادولو وړ ده چې وروستیو دواړو وچکالیو په هېواد کې د غذایي توکو کمښت ته لار پرانیستله. وچکالي د نورو ستونزو سربېره روغتیایي ستونزې هم منځ ته راوړي ځکه کله چې په یوه سیمه کې اوبه او خوراکي توکي کمیږي ناروغیو او د هغې خپریدو ته لار پرانیستل کېږي چې په پایله کې د انسانانو په مرګ تمامیږي. له وچکالۍ چې کومې روغتیایي ستونزې رامنځته کېږي د خوراکي توکو د کمښت له وجې خوارځواکي، د خوارځواکي د زیاتوالي له امله د خپریدونکو ناروغیو زیاتوالی، د ښځاک لپاره د کافي او سالمو اوبو نشتوالی ، د بیځایه شوو کسانو تر منځ د ګنې ګونې ډیروالی، د ټولنیزو رواني فشارونو او د اروایي

ستونزو او اختلالاتو رامنځته کول، د خلکو بېځایه کېدل، د کم وزنه ماشومانو زیږون او سیمه ایزو روغتیایي خدماتو ته نه لاسرسي څخه عبارت دي. په لاندې تصویر کې په ډاګه کیږي چې په افغانستان کې د وچکالۍ په پایله کې هغه ماشومان چې عمرونه یې له ۵ کلونو څخه کم دي له ۳۰ سلنې زیات په خوار ځواکي باندې اخته دي(25).




دریم انځور: په افغانستان باندې د وچکالۍ اغېزو په پایله کې د پنځه کلونو څخه کم عمره ماشومانو کې د خوارځواکۍ پېښې شیې چې له ۳۰سلنې لوړې دي (25)

**پایلې**

افغانستان د وچکالۍ پر وړاندې د زیانمنو هېوادونو له ډلې څخه دی. په ځانګړي ډول د هېواد لویدیځ او شمال لویدیځ زونونه تري په زیاته اندازه زیانمن دي. دا هېواد له ۲۰۰۰زیږدیز کال راپدېخوا تر اوسه پورې ٦ځلې سختو وچکالیو ځپلی دی او په ځانګړي ډول د متیورولوژیکي او هایدرولوژیکي وچکالیو پر وړاندې نسبت د وچکالۍ نورو ډولونو ته زیات زیانمن دی. اصلي ستونزه دا ده چې دا هېواد د اوبو ذخیره کولو کمه وړتیا لري، ځکه چې پرلپسې وچکالیو او د اقلیم بدلون له امله د واورو زر ویلې کېدو د دې هیواد د اوبو زېرمو مدیریتي کړنې له ستونزو سره مخامخ کړېدي. او د اوبو زېرمې تر اوسه په ښه ډول ندي مدیریت شوې. د وچکالي د شدت او شمیر له ډیریدو سره سم د هېواد د سیندونو په جریانونو کې هم بدلون راغلی او کچه یې ټیټه شویده. وچکالي د سیلابونو شدت سره هم مرسته کوي ځکه کومه سیمه چې وچکالي وځپي سختیږي او د اوبو جذبولو وړتیا یې کمیږي. وچکالي دا هېواد د اوبو کموالي ،کرنیزو حاصلاتو د کمښت، د لومړنیوخوراکي توکوکمښت او بیې لوړوالي، قحطي،غریبي، داخلي بیځایه کیدنې، مهاجرتونو، مرګ ژوبلې، د کرنې وړ ځمکې ویجاړتیا، دښتي کیدنه، د بزګرانو عاید کموالي، په کرنه باندې سرمایه ګذاری ته د پاملرنې کموالۍ، د اهلي حیواناتو له منځه تلل، متنوع غذایی

رژیم ته نه لاسرسي، د اوبو زېرمو پر سر شخړې، د خوراکي توکو لاسته راوړلو په موخه د کم عمره نجونو ودول، دخوراکي توکو لاس ته راوړلو په موخه د اهلي څارويو پلورل، د حیواناتو د وزن کموالي، له لرې پرتې سیمو څخه د څښاك اوبو راوړلو په موخه په کیلومترونو فاصلې وهل او ناروغیو په ځانګړي ډول په کم عمره ماشومانو کې د خوار ځواکي ، اسهالاتو، شري، تبې کیدو، د نویو پیداشوو ماشومانو مړینه، د سږو پړسوب، د وزن کموالي او په حامله ښځو کې د وینې کموالي ناروغۍ رامنځته کړې دي. دا هېواد د وچکالۍ پر وړاندې په لوړه کچه زیانمن دی او د وچکالۍ له امله به دا هېواد د کرنې وړ ځمکې ویجاړیدو او صحرایي کیدو سره په راتلونکو کلونو کې مخامخ شي.

**وړاندیزونه**

۱. دولت باید د وچکالۍ او قحطۍ لپاره د ارزونې او خبر ورکونې سیستمونه رامنځته کړي؛
۲. په هېواد کې د وچکالۍ مدیریت لپاره باید څو سکتوري پلانونه ترتیب او عملي شي؛
۳. مسولې ادارې او وزارتونه باید د وچکالۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره زېرمې او امکانات برابر کړي؛
۴. کرنې وزارت باید د هېواد بزګرانو ته ځانګړې پاملرنه وکړي اصلاح شوي او د وچکالۍ پر وړاندې مقاوم تخمونه ورته برابر کړي؛
۵. دولت باید د وچکالي پر وړاندې د مبارزې لپاره له عصري سیستمونو ګټه واخلي او د رواجولو لپاره یې پروګرامونه ترتیب کړي؛

## اخځلیکونه


1. Qiyamud Din Ikram, Abdur Rashid Jamalzai, Abdur Rahim Hamidi, Irfan Ullah MS. Flood risk assessment of the population in Afghanistan: A spatial analysis of hazard, exposure, and vulnerability. Nat Hazards Res. 2023;10.
2. Hilhorst D, Mena R, van Voorst R, Desportes I, Melis S. Disaster risk governance and humanitarian aid in different conflict scenarios. Glob Assess Rep Disaster Risk Reduct (GAR 2019). 2019;49.
3. FarhatKhalıly. Assessment of Global Warming on Food Production in Afghanistan. Journal. 2022;6(2):113–9.
4. ANDMA. Afghanistan Disasters Risk atlas. 2019;276.
5. World Bank Group. Disaster Risk Profile Afghnistan [Internet]. 2017. Available from: https://www.gfdrr.org/sites/default/files/afghanistan_low_FINAL.pdf
6. Alim AK, Shobair SS. Drought and human suffering in Afghanistan. In: Tsukuba Asian seminar on agricultural education, given at the agriculture and forestry research center. University of Tsukuba; 2010.
7. Qutbudin I, Shiru MS, Sharafati A, Ahmed K, Al-Ansari N, Yaseen ZM, et al. Seasonal drought pattern changes due to climate variability: Case study in Afghanistan. Water. 2019;11(5):1096.
8. Akhundzada N ahmad. Climate Change and its Impacts in Afghanistan Abstract. kabul;
9. OCHA. Managing Natural Disaster in Afghanistan. Organisation of Islamic Cooperation; 2020.
10. Platform AADS. Reimaging drought response. 2020.
11. Jeyaseelan AT. Droughts & floods assessment and monitoring using remote sensing and GIS. Satell Remote Sens GIS Appl Agric Meteorol [Internet]. 2003;291–313. Available from: http://www.wamis.org/agm/pubs/agm8/Paper-14.pdf
12. Saha TR, Shrestha PK, Rakovec O, Thober S, Samaniego L. A drought monitoring tool for South Asia. Environ Res Lett. 2021;16(5).
13. SAARC Disaster Management Center ND in collaboration with ANDMA. SAARC woerkshop on Drought Risk Managmement in South Asia. In Kabul; 2010. p. 183.
14. Marin-Ferrer M, Vernaccini L, Poljansek K. Index for Risk Management INFORM Concept and Methodology Report - Version 2017. Eur 28655 En. 2017. 85 p.
15. UCLouvain center for research on the epidemiology of disasters (CRED) and U. Disasters in Numbers. 2021.
16. Perwaiz A, Parviainen J, Somboon P, Mcdonald A, Kumar A, Wilcox T, et al. Disaster Risk Reduction in Afghanistan. 2020;
17. World Bank Group, Asian Development Bank. Climate risk country profile: Afghanistan [Internet]. 2021. Available from: https://climateknowledgeportal.worldbank.org/sites/default/files/2021-05/15396A-WB_Afghanistan Country Profile-WEB.pdf
18. Asad Sarwar Qureshi and Mujib Akhtar (IWMI). A Survey of Drought Impacts and Coping Measures in Helmand and Kandahar Provinces of Afghnistan. 2004;(December):21.
19. Basheer A. Emergency and Disaster Reports and technological disasters. Emerg disaster Rep. 2014;1(2334–9932):25–62.
20. Baseer Qureshi A. The Afghanistan profile of natural and technological disasters. Emerg Disaster Reports, 1. 2014;
21. Rousta I, Olafsson H, Moniruzzaman M, Zhang H, Liou YA, Mushore TD, et al.

Impacts of drought on vegetation assessed by vegetation indices and meteorological factors in Afghanistan. Remote Sens. 2020;12(15):2433.
22. Hayat E, Tayfur G. Meteorological drought and trend effects on transboundary river basins in Afghanistan. Theor Appl Climatol [Internet]. 2023;154(3):1253–75. Available from: https://doi.org/10.1007/s00704-023-04602-1
23. Alami MM, Hayat E, Tayfur G. Proposing a popular method for meteorological drought monitoring in the Kabul River Basin, Afghanistan. Int J Adv Eng Res Sci. 2017;4(6):237199.
24. EM-DAT,CRED/UCLouvain,Brussels B. International Disasters Database. 2024.
25. World Health Organisation W. Section 2- Emergencies. J financ econ. 2002;49(July):49–51.